Aef.kdr@gmail.com
۰۷۰۰۸۶۱۵۱۵
۰۷۰۰۲۱۷۵۴۶

الجامعة الإسلامية الحمادية
عينو مېنه \ يوولسمه ناحيه \ کندهار \ افغانستان

## odrergo **اپلکیشن باندي پیسې ګټل جایز دي؟**

په افغانستان کښي یو اپلکیشن فعال سوی دئ تر څو خلکو د همدې لاري پیسې وګټي ، طریقه په لاندي ډول ده:
یو : لومړی به ګډون وال په اپلکیشن کښي اکاونټ جوړوي.
دوه: ګډون کونکی به په اکاونټ کښي پیسې جمع کوي.
درې: ګډون کونکی کولای سي د ۳۰ ډالرو څخه شروع تر ۳۰۰۰۰ ډالرو اکاونټ جوړ کړي.
څلور: تر اکاونټ جوړولو وروسته په همدې اپلیکشن کښي اعلانات هره ورځ ورته راځي ګډون وال اعلان نشروي ، لایکوي یې، د هر اعلان په بدل کښي یوه اندازه پیسې ده ته ورکول کیږي او که ګډونوال راغلی اعلان ریجکټ کړی بیا دده د پیسو څخه یوه اندازه پیسې کمیږي، البته که ګډون کونکي لږ پیسې جمع کړي وي د ارازانه شیان اعلان ورته راځي، چي د ګټي فیصدي یې هم لږه ده که یې ډیري پیسې جمع کړي وي د ګرانو شیانو اعلان ورته راځي، چي د ګټي فیصدې زیاته ده، یا په بل عبارت که ګډون وال سل ډالره په اکاونټ کښي ولري د ۹۰ ډالرو قیمت لرونکی شی په اعلان کښي ورته راځي ، د پوره سلو ډالرو شی په اعلان کښي نه ورته راځي ځکه هغه لس ډالره کمپنۍ والا ددې لپاره ساتي چي د تاوان په صورت کښي یې د ګډون وال څخه وګرځوي. که ددغه کس ګټه مثلا په پنځه ورځي کښي پنځلس ډالره سوه، یعني د اصل پیسو سره یې ټولي پیسې **۱۱۵** ډالره سوې بیا دغه کس ته اعلان د **۱۰۵** ډالرو لرونکی شی راځي.

**جواب:**

پورته اپلکیشن څلور ډوله کېدلای سي:

**لومړی**: داچي اپلکیشن و ګډون وال ته پر پیسو باندي ګټه ورکوي یعني داچي که فرضا سل ډالره جمع کړي هره ورځ درې ډالره ورکوي داچي هغه سل ډالره دده په ګټه باندي زیاتیږي او یا خپله ګډون وال نوري پیسې جمع کوي بیا زیاته ګټه ورکوي دغه کار شرعا سود بلل کیږي.

**دوهم**: داچي د اپلکیشن مالک ګډون وال ته وایي زه تا ته مزدوري درکوم یعني داچي اعلانونه درکوم هغه اعلانونه نشروه یا یې لایکوه پر هغو لایکونو باندي پیسې درکوم، ته به ما ته کار کوي او زه پیسې درکوم ، په دې شرط، چي ته ما ته پیسې جمع کړې البته که لږ پیسې را ته جمع کوې لږ کار درکوم یعني داسي اعلان درکوم، چي پر نشر باندي یې لږ مزدوري وي او که دي ډیري پیسې جمع کړې بیا ډیري پیسې درکوم یعني داسي اعلان درکوم، چي پر نشر باندي یې ډیره فیصدې ګټه راځي دغه ډول ته اجاره یا مزدوري ویل کیږي ، مزدوري کول جایز دي البته د پیسو جمع کولو شرط به نه وي یعني داچي دا شرط به نه باندي ایږدي چي ما ته به پیسې جمع کوې بیا د نشر لپاره اعلانونه درکوم که یې دغه شرط باندي ایښی وو نو بیا جایز نه دئ، ځکه په اجاره کښي داسي یو شرط ایښوول، چي د یوه طرف منفعت پکښي وي هغه فاسد شرط بلل کیږي او د فاسد شرط په وجود کښي اجاره فاسده بلل کیږي، یاده خبره زموږ د فقهي شریفي متعددو کتابونو رانقل کړې ده چي په پای کښي یې عبارات ایږدم ان شاء الله.

**دریم**: که د اپلکیش مالک ګډون ته وایي، چي زه یوه اندازه پیسې ستا څخه د اکاونټ د جوړېدو مزدوري اخلم، هغه پیسې بیا نه درکوم، تر اکاونټ وروسته زه اعلانونه درکوم، ته یې نشروه د هر اعلان پر سر باندي مزدوري درکوم او اکاوټ ځکه لازم دئ، چي د اکاونټ پرته دا کار نه کیږي. په دې صورت کښي هیڅ منع نسته په دې شرط، چي د اعلان پر نشر باندي د مزدورۍ اندازه پیسې په رقم یا په فیصدي معلومي وي، ځکه دا ښکاره اجاره ده فقهاوو کرامو چي کوم تعریف د اجارې لپاره کړی دئ هغه ورباندي صادق دئ او کوم شرائط چي یې ورته ایښي دي هغه ټول پکښي پوره کیږي ، سره ددې، چي فاسد شرط هم نسته بناء په دغسي صورت کښي کار کول جایز دي.

**څلورم**: د اپلکیشن مالک وایي ګډون وال دي ماته یوه اندازه د تضمین پیسې کښیږدي، تر څو باور مو جوړ سي زه د مزدورۍ لپاره اعلانونه ورکوم د غه صورت هم جایز دئ، فقه شریف دا سي مسئلې ذکر کړي، چي د مزدور څخه په رهن شی اخستل او د کار تر خلاصېدو وروسته بېرته ورکول جایز دي. حوالې یې وروسته لیکم.

**تحلیل**:

د اډرګو (odrergo) اپلکیشن په اړه په مختلفو ډولو او طریقو باندي ماته معلومات راکول سوي چي د پورته څلورو طریقو څخه وتلي نه دي د مهربانۍ له مخي په پورته څلورو طریقو کښي په دقت باندي غور وکړئ چي یاد اپلکیشن په جایزه طریقه کښي داخل دئ او که په نا جایزه طریقه کښي داخل دئ، په پورته طریقو کښي دوې طریقې جایز دي، چي درېیمه او څلورمه دي، دوې نا جایز دي چي اوله او دوهمه دي.

تر کومه ځایه، چي زما تحلیل دئ یاد اپلکیشن په دوهمه طریقه باندي جوړ دئ، چي ناجایز بلل سوی دئ او دسود شبهه پکښي موجوده بلل سوې ده، بناء ځان ځني ساتل لازم بولم.

وفي البدائع:

وأما الذي يرجع إلى ركن العقد فخلوه عن شرط لا يقتضيه العقد ولا يلائمه حتى لو أجره داره على أن يسكنها شهرا ثم يسلمها إلى المستأجر أو أرضا على أن يزرعها ثم يسلمهاإلى المستأجر أو دابة على أن يركبها شهرا أو ثوبا على أن يلبسه شهرا ثم يسلمه إلى المستأجر فالإجارة فاسدة لأن هذا شرط لا يقتضيه العقد وأنه شرط لا يلائم العقد، وزيادة منفعة مشروطة في العقد لا يقابلها عوض في معاوضة المال بالمال. يكون ربا أو فيها شبهة الربا وكل ذلك مفسد للعقد وعلى هذا يخرج أيضا شرط تطيين الدار وإصلاح ميزابها وما وهى منها وإصلاح بئر الماء والبالوعة والمخرج وكري الأنهار وفي إجارة الأرض وطعام العبد وعلف الدابة في إجارة العبد، والدابة، ونحو ذلك...بدائع الصنائع:۴ \ ۱۳۵

وفي الهندية:

والإجارة تفسدها الشروط التي لا يقتضيها..ج:۴ ، ص: ۴۴۲

و كذا في الجوهرة النيرة:۱ \ ۲۶۵

وكذا في المحيط البرهاني: ۷ \ ۵۵۹

و في الهندية:

ولو استأجر خياطا ليخيط له ثوبا وأخذ من الخياط رهنا بالخياطة جاز وإن أخذ الرهن بخياطة هذا الخياط بنفسه لا يجوز، وكذا لو استأجر إبلا إلى مكة وأخذ من الجمال بالحمولة رهنا جاز، ولو أخذ رهنا بحمولة هذا الرجل بنفسه أو بدابة بعينها لا يجوز...ج: ۵، ص: ۴۳۵

و كذا في مجمع الضمانات: ۱\۹۸

**په درنښت**

**مولوي عبدالهادي حماد. ۷ محرم الحرام، ۱۴۴۴ هق**

مولوي
عبدالهادي «حماد»

www.t-quran.com www.hammadia.org